مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۲/۰۸/۱۶

آزادي

د افغانستان پتمنو لوړو ته ډالۍ،
چې پر خپله "هستي" باور لري!
کتاب غواړي، ډوډۍ غواړي
او
د انساني ژوند حق.

آزادي رڼه ـ رڼه څښمه، پاڅېږم
زه په تنده ایمان نه لرم سرابه!
زما مخ د رڼا ځلنده هویت دی
سیوری لرې کړه د نور له دې کتابه

*****

آزادي مې د بنګړیو شرنګ کې راوړه
زه سندره د هستۍ یمه، غږېږم
زه د ونې سکه خور یمه قصابه!
ته مې لېچې پرې کوه، زه راشنه کېږم

*****

زه پخپله هم (الف) یمه هم (بې) یم
څه به غلا کړې رانه زما همزولي توري
(جیم) او (دال) مې د پاولیو شاګردان دي
په لمن کې مې کتار دي لکه ستوري

*****

زما مخ د ګلابو په عطرو وللی
په حجاب کې نو وړمې نغاړلی نه شي
(زه) یم، زه (یم) دا نو ومنه اغزیه!
له وجوده مې انکار کولی نه شي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ